استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی جمعه۱۱ اگست ۲۰۲۳

# د احمدشاه بابا دیوان

## شپږمه برخه




### د لوړ توب او برى لار

احمد شاه بابا په ژوندون کي ډېر د زيار او مښود پر خوا دي، دى پر جد او جهد، د ژوندون اساس ايږدي، او په دنيا کي د ټولو لوړتياوو او نهضتو عامل دغه زيار او جهد ګڼي!

احمد شاه بابا پخپله هم يو زيار کښونکي او جاهد سړى وو، او ځان ئې د زيار په سيوري کي د شاهنشاهۍ حد ته ورساوه، او د دنيا په لويو ميړو کي وګڼل سو.

احمد شاه بابا پخپل کلام کي د جد او جهد او زيار او مښود تلقين په خورا ښه ډول کوي، او دغه حقيقت پښتنو ته په ښکاره ډول ښيئي چه په دنيا کي بې له زياره بله د برى لار نسته، او نه څوک بيله مښوده لوړيدلاى سي.

احمد شاه بابا د ژوندون فلسفه ټوله پر دغه ټينګه تيره بنا کوي، او خپله ټوله لوړتيا او د شاهنشاهى عظمت د خپل زيار له برکته بولي، او د جد او جهد ثمره ئې ګڼي لکه چه وايي:

بې زحمته راحت چيرى مونده نشي

د "احمد" ځکه په هر لوري غزا ده

دنيا د احمد شاه بابا په نظر، يو بازار دئ، چه د لوړتيا هر راز متاعونه پکښې پيرودل کيږي، مګر قيمت ئې فقط د انسان سعی او زيار او سربازي ده:

"احمد شاهه" دلته جوړه سر بازي ده

د لوړتيا خريد کوه له دې بازاره

بل ځای په څه ښکاره الفاظو دغه فلسفه رونوي:

بې زحمته راحت ندی چا موندلي

د مچۍ په دود له ځانه خوره رطب

احمد شاه بابا ټول عمر په وطني جهاد او د پښتنوالی د لوړتيا په لار کي تير کي، ده يو ګړی بې کاره په تنبلی او عياشی کي نه کئ ضائع، ځکه نو دغه خپل حال داسي تصوير کوي:

"احمد شاهه" ځو دي کار په لاس دی مټ کړه

حيف هغه چه په تير کار موري لاسونه

په دې ډول د بري لار، او د ظفر سر د احمد شاه بابا په نظر کي فقط زيار او مبنود دي و بس.

**د احمد شاه بابا حماسيات**

شعر او شاعری د ملتو د افکارو ترجماني کوي، دغه يوه هنداره ده چه د هغه ملت روح انعکاس پکښې کوي.

شاعر چه په هره ډله او هر اولس کي ژوندون کوي، د هغه اولس اجتماعی ژوندون، او اجتماعی جذبات او افکار پر ده اثر کوي، نو هغه وخت چه دی شعر وايي، هغه ملی افکار او اولسی روح د ده په وينا کي ښکاره کيږي، او د ملتو بارز او ټينګ جذبات او روحيات ټل د دوی د شاعرانو په ويناوو کي ښکاره وي.

شاعر که څه هم په خپله وينا کي يو موضوع نه ځايوي، او د ملتو پر پسيکولوژی (روحياتو) نه ږغيږي، بيا هم د ده هره وينا، له زړه څخه راوزي،

او د ده زړه مرکز او منبع د هغو احساساتو او جذباتو دی، چه شاوخواو ته ئې موجود دي، يا د ده په اولس کي ګرزي.

په هغو ملتو کي چه د کار او عمليت روح غالب وي، د شعر او له ويناوو څخه دغه ښيګړه ښکاره کيږي، هغه اولسونه چه ميل ئې و انزوا او خضوع او فلسفې ته وي له شعره ئې هم دغه افکار را

تویئیږي! هغه اقوام چه د دوي عمرونه په جګړو او توریالی توب کي تیریږي، د دوي اشعار تل له توری، او جنګ او ننګه بحث کوي!
لنډۍ دا چه په شاعری کي د اولس بارز او ټینګ صفات جلوه کوي، او شعر د ملتو د روح څخه نمایندګی کولا سي!
د عربو په ادبیاتو کي د هغو وختو اشعار، چه دوی په میرانه او توریالی
توب پر دنیا قبضه کړې وه، ډیر د میرانی او توریالی توب په ښو احساساتو
ډک دي، او د دوی د حماست نمایندګي کوي، په پارسی شعر کي هم لکه د جنګ او ننګ او رزم اشعار چه فردوسی ویلی دي، د مغولو تر فترت وروسته هغه ویښ حماسي افکار، بیا لږ مونده کیږي ځکه چه په دغه عصر کي هغه د رزم او حماست افکار او هغه لوړ حربی احساسات ورک شوی دي! ولی چه شاعر خو د محیط او اجتماع له فکر او احساس څخه متأثر کیږي نو چه په چاپیر او شاوخوا کي کوم شی نه وي، د شاعر په فکر کي هم لږ ور ګرزي!
پښتون ملت خو ذاتاً او فطرتاً یو توریالی اولس دئ دغه د توري مینه او ننګیالی توب ئې په خټه اخښلي دي، د پښتنو ملی اشعار او ادبیات له رزمی او حماسی افکارو ډک دي، د دوی په اشعارو کي تل د میړو میړاني، او د ننګیالیو غیرت، او د توریالیو توری ستایلي کیږي، او دا ځني ښکاره کیږي، چه دا ښاغلی ملت له توری سره مینه لري؟ او په بازي او ننګه کي څنګه د میړو په څیر دریږی، معشوقه تل د مین په ننګه او مړانه ناز کوي، او وائی:
جانان مي سر پر وطن کښیښود
په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه
بالعکس د بې ننګی څخه داسي بد وړي، چه پر تیره مینه هم پښیمانه کیږي:
له سپیني توري نه دی تر پلود
پر بیګنی در کړې خوله پښیمانه یمه
دا هغه ملی احساسات دي، چه د پښتنو په ملی ادب کي اخښلی، او د دوی د ملی جذباتو نمایندګي کوي!
د پښتو ژبی د شعر او ادب یوه لوی او خوږه برخه هم د پښتنو شاعرانو حماسیات، او د ننګیالی توب د احساساتو خوا ده، د پښتو پلار خوشحال خان خټک په دې خوا کي ښه اشعار لري، چه دلته ئې دغه یو بیت کافی دي:

د تورو په میدان کي چه سودا وی د سرونو
هغه زمان مي ګوره تل به سور وی د ما آس

احمد شاه بابا خو هم یو پښتون شاعر دئ، دی خو د میرانی د ډګر بریالی قوماندان، او غښتلی لښکر مشر دئ، علاوه پر ملی او فطری میړانه او ننګه، له کوچنیوالي تر مرګه د جګړو په میدانونو کي په پښتنواله دریدلي، او ډیري لوړی ژوری ئې لیدلی دي، نو ځکه ده د پښتنوالی ډیر لوړ او ټینګ د حماست او غیرت احساسات پخپلو ویناوو کي ځاي کړي، خپل ملی جذبات ئې ټوله ښرګند کړي دي!

د ده له کلامه دغه ښکاره ده، چه دا کلام د یوه پښتون وینا ده، او د داسي پښتون وینا ده، چه پخپلو ملی ښیګړو او حماسی جذباتو ئې زړه ډک، او د توریالی توب او ننګیالی توب مقدس ملي احساست په سر کي لری! مثلاً:

راته یو دی بحر او بر که څه سم وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم شاهانه په شان و فر

پښتانه خو تل دا عادت لري، چه څوک په قوت او زور کي ور سره سم نه وی، نو د هغه سره جنګ څه، بلکه ناز هم ورکوي، او دا خبره د پښتنوالی له لوړ جنابه سره مناسبه نه بولي چه یو ضعیف دښمن محو کړی، یا پر یوه بې وزلي غلیم باندی د متې زور ښکاره کي.

احمد شاه بابا د پښتنوالی دغه عالیجنابی او لوړ همت داسی بیانوي:

"احمد شاه" که د همت توره در واخلې
بیا به وکړې په رقیب باندي ماتم

مګر سره د دغه چه دی پر ځان او پر خپله میړانه اعتماد لري، او رقیب تباه کولای سي، بیا هم په دې ژبه ده ته وایي، چه زما څخه لاس واخله، که نه وي د توری دروړ لرم:

له "احمده" څخه لاس واخله
دي د توری دي دروړ

نوربیا

salamwatanam@gmail.com